چمتو والي کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

# زه ختلی شم!




**لیکوال:** مېني شرینبواسن

**انځورګر:** دېول مانیار

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

I Can Climb (Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



زه اوس یو ستر هلک یم.




زه په زینو ختلی شم.




خو زه بېرته کوزېدلی نه شم.




زه یوې څوکۍ ته ختلی شم.



خو بېرته کوزېدلی نه شم.



زه یوې څوکۍ ته ختلی شم، او بیا له هغه ځایه مېز ته ختلی شم!



خو زه بېرته کوزېدلی نه شم.




ما چیغه کړه،

”پلار جانه! پلار جانه!“

پلار جان وخندل.


”سلیمه! کوزېدل زده کړه!“ هغه وویل.



زه ډارېږم. خو زه نه ژاړم.



کرار کرار، زه له مېزه څوکۍ ته راکوز
شوم او، بیا له څوکۍ څخه لاندې
راکوز شوم.



آخر مې هم کوزېدل زده کړل!

## لارښودونکې پوښتنې

1. د کیسې په پیل کې سلیم څه کولای شي او څه نه شي کولای؟
2. آیا تاسې د پورته ختلو او کوزېدلو په طریقه پوهېږئ؟
3. هغه کوم کارونه دي چې تاسې یې سږ کال کولای شئ خو تېر کال مو نه شول کولای؟
4. تاسې تر بل کال پورې د کوم کار د ترسره کولو د وړتیا لاس ته راوړلو لپاره هیله مندي لرئ؟
5. تاسې له خپلو مشرانو ورونو او خویندو او ملګرو څخه څه زده کړي دي؟